# إِذَا الْتَقَى الْمُسْلِمَانِ بِسَيْفَيْهِمَا فَالْقَاتِلُ وَالْمَقْتُولُ فِي النَّارِ

له ابو بکرة رضي الله عنه څخه روايت دی وايې چې له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه مې اورېدلي دي چې فرمايل يې: «إِذَا الْتَقَى الْمُسْلِمَانِ بِسَيْفَيْهِمَا فَالْقَاتِلُ وَالْمَقْتُولُ فِي النَّارِ»، فَقُلْتُ: يَا رَسُولَ اللهِ هَذَا الْقَاتِلُ، فَمَا بَالُ الْمَقْتُولِ؟ قَالَ: «إِنَّهُ كَانَ حَرِيصًا عَلَى قَتْلِ صَاحِبِهِ». "کله چې دوه مسلمانان توره په لاس يو له بل سره وجنګيږي نو قاتل او مقتول دواړه په اور کې دي »، ما وويل: اې د الله رسوله! دا خو قاتل دی چې - اور ته به ځي - نو د مقتول څه ګناه ده؟ هغه وفرمايل: «هغه د خپل ملګري د وژلو لېوالتيا درلود».

[(صحيح] [متفق عليه دی ( بخاري اومسلم دواړو روايت کړی دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي چې که دوه مسلمانان په خپلو تورو سره له يو بل سره مخ شي، او هر يو يې د بل د تباه کولو (وژلو) اراده ولري؛ نو قاتل د خپل ملګري د مستقيم وژلو له امله په دوزخ کې دی. د مقتول په اړه صحابه په ستونزه کې ولوېدل: چې څنګه به هغه په جهنم کې وي؟ نو رسول الله صلى الله عليه وسلم خبر ورکړ چې هغه هم د خپل ملګري وژلو ته د لېوالتيا له امله په دوزخ کې دی او د قاتل له وژلو نه هېڅ شي منع نه کړ پرته لدې چې قاتل پرې چالاکي وکړه او ترې مخکې شو.



النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee